په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او
حفظ‌الصحي پروګرام



# کلنی راپور
# ۱۳۹۸

## په ۱۳۹۸ کال کې د اوبو رسولو د پروګرام مهمې لاسته راوړنې:

په تېر یوه کال کې شاوخوا (۲میلیونه، ۸۰زره او ۴۳) تنه کلیوالي اوسیدونکي د ښښلو د اوبو له پروژو څخه برخمن شوي. د احصایې او معلوماتو د ملي اداري د (۱۷/۲۰۱٦) کال د راپور له مخې، په کلیوالي سیمو کې د ښښلو اوبو ته د لاسرسی فیصدي (۵۵،۳) ده.

## په روان مالي کال کې د اوبو رسولو پروګرام لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

### ۱ د اوبو د سرچینو جوړول

- د ارزګان، بادغیس، بامیانو، بدخشان، بغلان، بلخ، پروان، پنجشېر، پکتیا، پکتیکا، تخار، جوزجان، خوست، دایکندي، زابل، سرپُل، سمنګانو، غزني، غور، فاریاب، فراه، لغمان، ننګرهار، نورستان، هرات، هلمند، وردک، کابل، کاپیسا، کندوز، کندهار او کنړ ولایتونو په (۱۱۷) ولسوالیو کې د (۲۳۸) شبکو جوړول او بیارغول؛



- د بادغیس، بامیانو، بدخشان، بغلان، پروان، پنجشیر، پکتیا، پکتیکا، تخار، خوست، دایکنډي، زابل، سمنگان، غزني، غور، فراه، لوګر، ننګرهار، هلمند، وردک، کابل، کاپیسا او کندهار ولایتونو په (۷۱) ولسوالیو کې د (۵۲۵) شاه ګانو کیندل او ترمیمول؛

- په بامیانو، پکتیا، پکتیکا، خوست، دایکنډي، زابل، غور، هرات او کندهار ولایتونو کې د (۱،۱۹۱) مبرزونو جوړول او اصلاح کول؛

- په بدخشان او کندهار ولایتونو کې د (۲۶۵۹۴) متره اږده کانال جوړول او پاکول؛

- په کندهار ولایت کې د (۳۵) متره اوږده کاریز جوړول او پاکول؛

- په بادغیس، جوزجان، وردک او هرات ولایتونو کې د (۷۷) ذخیرو جوړول؛

- په بادغیس، هرات او غور ولایتونو کې په بیړنیو حالاتو کې د ټانکر موټرانو په مرسته د (۳۰۰ میلیونه، ۹۰۹زره او ۴۵۰) لیتره اوبو لیږدول؛

د پورته ذکر شویو پروژو په بشپړېدو سره څه باندي (۲میلیونه، ۸۰زره او ۴۳) تنه د اوبو له پروژو څخه برخمن شوي دي او د پروژو چارو د ځایي خلکو لپاره (پینځه لکه او څلوېښت زره او ۸۸٦) کاري ورځې ایجادي کړې دي. په دغو پروژو باندي مجموعاً (یو میلیارد او ۲۰۹ میلیونه او۴۹٦ زره او ۲۵۰) (۱،۲۰۹،۴۹٦،۲۵۰) افغانۍ لګښت راغلی.

# ۲ حفظ الصحه

په کوچنیانو کې د مړینو او ناروغیو چې د حفظالصحې د نه مراعتولو او غیرصحي اوبو له امله رامنځته کیږي، د کمولو په موخه د اوبو رسولو پروګرام په ۱۳۹۸ کال کې د هېواد په (۹) ولایتونو لکه بدخشان، پکتیکا، هلمند، ننګرهار، کندهار، بادغیس، بامیان، غور او دایکنډیو کې د حفظالصحې پروګرام تطبیق کړ .




چې په پایله کې یې (۳۵۳۸) مبرزونه نوي جوړ شول، (۱۱۳۹۱) پخواني هغوی اصلاح شول او شاوخوا (۲۸زره او ۱۳۳) تنه د حفظالصحي له خدمتونو برخمن شول.

## ۳ د پاکوالی تعلیمات

د پاکوالي د تعليماتو روزنيز ورکشاپونه په بادغيس او هرات ولايتونو کې د (۴۸) مېرمنو او (۴۸) نارينه‌وو لپاره داير شول.





## ۴ د اوبونې (آبیاری) پروژې

د کليوالي اقتصاد د ودې او د اوبو له بې‌ځايه لګښت نه د مخنيوي او د هغو نه د اغيزمنې استفادې په موخه، د اوبونې (أبيارې) په برخه کې د اوبونې (۲۱) پروژې بشپړې شوې. په دغو پروژو کې په بدخشان او کندهار ولايتونو کې د (۲٦)زره او (۵۹۴) متره اوږده کانال جوړول او په کندهار ولايت کې د (۳۵) متره اوږده کاريز جوړول شامل وو.





# ۵ د بېړنیو حالاتو (وچکالۍ) په برخه کې

د (۱۳۹۸) کال په لړ کې د هېواد په (۱۲) ولایتو کې د شاوخوا (یو مېلیون او ۵۹۶زره او ۴۳۹) تنو لپاره په بېړنیو حالاتو کې د څښلو اوبه او د حفظالصحې خدمتونه چمتو شوي، چې له دې جملې نه شاوخوا (۴۸۹زره او ۴۰۵) کسانو لپاره د څښلو اوبه او د (۱۱۹ زره او ۹۹۴) تنو لپاره بېړني مبرزونه او (۹۸۶زره او ۹۴۴) تنو لپاره صحي بستي توزیع شوي دي. البته د یادو شویو خدمتونو زیاته برخه په بادغیس، هرات، هلمند او تخار ولایتونو کې چمتو شوي ځکه چې یاد ولایتونه له شدیدې وچکالۍ سره مخ ول.



# د اوبو رسولو رواني پروژې

په بشپړو شويو پروژو سربېره، د اوبو رسولو پروګرام يو شمېر رواني پروژې هم لري چې په لاندې توګه دي:

- د (۳۳۹) خاه‌ګانو کیندل /ترمیم
- د اوبو رسولو د (۲۱۱) شبکو جوړول او رغول
- د (۵۲۹) صحي مبرزونو جوړول او رغول
- په بېړنيو حالاتو کې د (۳۴میلیونه، ۵۲۴زره او ۸۴۰) لېتره اوبو لېږد
- د اوبو د (۱۸) ذخيرو جوړول
- د (۱۷زره او ۵۵۲) متره اوږده کانال جوړول او پاکول
- د (۵۴۲) متره اوږده کاريزه جوړول او پاکول

د دغو پروژو په بشپړېدو سره به (۷۶۱ زره او ۵۱۶)تنه د ښبلو د اوبو او اوبوني له پروژو نه برخمن شي او د پروژو چارې به د شاوخوا (۴میلیونه، ۷۲۳زره او ۹۹) کاري ورځې ایجاد کړي. د يادو شويو پروژو ټولټال بودجه (يو میلیارد، ۲۶۷میلیونه،۹۷۱زره او ۴۵۹) افغانۍ اټکل شوي ده.